په افغانستان کې
د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د افغانستان د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي

## د ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا وینا

## کابل ۱۲ ډسمبر ۲۰۲۴

آغلې مشرې،

په داسې حال کې چې موږ په افغانستان کې د طالب چارواکو د واکمنۍ څلورم کال ته ننوځو،
موږ د ښکیلتیا هڅو له جدي ازموینې سره مخامخ یو.
امنیت شورا یوناما ته دنده سپارلې چې د افغانستان د ټولنیز او اقتصادي ثبات ملاتړ وکړي.

موږ د ملیونونو ښځو، نارینه وو، نجونو او هلکانو لپاره د اړین چاپیریال رامنځته کولو لپاره د مرستې په لټه کې یوو ترڅو د ژوند ژغورنې بشري مرستې ترلاسه کړي او لومړنۍ بشري اړتیاوې یې پوره کړي.

د بسپنه ورکوونکو د سخاوتمندانه له امله، په افغانستان کې ملګري ملتونه توانیدلي چې سږکال ۱۵.۳ میلیونه خلکو ته مرستې ورسوي.

د ملي او نړیوالو موسسو او ملګرو ملتونو سره د کارکونکو افغان میرمنو پر وړاندې د واکمنو چارواکو بندیزونه یو خنډ دی چې قوي ملاتړ او همغږو اقداماتو ته اړتیا لري.

په ورته وخت کې، واکمنو چارواکو د هیواد ټولو برخو کې بشردوستانه مرستو ته د لاسرسي اجازه ورکړې. زما د اوچا همکار، او د بشري مرستو همغږي په برخه کې د عمومي سرمنشي مرستیال، فلیچر به نن په خپلو خبرو کې د دې هڅو او د مرستو د چمتو کولو پر وړاندې د خنډونو او حل لارو په اړه نور معلومات وړاندې کړي.

د خپلو اصولي او ثابت تعامل له لارې، موږ د افغانستان د سولې او ثبات په برخه کې، د واکمنو چارواکو په ګډون د رغنده خبرو اترو لپاره د یو پلیټ فارم د رامنځته کولو په لټه کې یو، چې د نړیوالو نورمونو سره سم وي او موږ یې د ساتلو پابند هم یو. چې موخه یې له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان بیا یو ځای کیدل او د خپلو نړیوالو مکلفیتونو رعایت کول دي.

داسې برخې شته چې پکې زموږ ښکېلتیا او مرستو د افغانانو په ژوند د پام وړ اغیز کړی او د هغوی مقاومت یې پیاوړی کړی، د کډوالۍ او امنیت د خرابیدو خطرونه یې کم کړي دي. نوي فرصتونه ایجاد شوي، چې زه به وروسته په تفصیل سره خبرې پرې وکړم. مګر زموږ د نفوذ او د نړیوالې ټولنې څخه د ګټې اخیستنې پر وړاندې لا هم روښانه محدودیتونه شتون لري، چیرې چې د واکمنو چارواکو نورې همکارۍ ته اړتیا ده.

اغلې مشرې،

د سپتمبر په میاشت کې تاسو ته زما د وروستۍ وینا راهیسې، واکمنو چارواکو د اسلامي نظام او د افغان کلتور د تفسیر په اړه د خپل لیدلوري تعقیب ته دوام ورکړی، چې په ښځو او نجونو باندې بېساري محدودیتونه په ګوته کوي.

اوس نږدې دولس سوه ورځې تیرېږي چې نجونې له شپږم ټولګي څخه پورته رسمي زده کړو ته لاسرسی نلري، ښځې او نجونې د ژوند له نږدې ټولو برخو څخه په تدریجي ډول د وتلو سره مخامخ دي.

د ډسمبر په پیل کې، واکمنو چارواکو اعلان وکړ چې ښځینه زده کونکي به د طبي موسسو او د لوړو زده کړو په ټولګیو کې له ګډون څخه منع شي. که چیرې دغه حکم په بشپړه توګه پلی شي، دا به نه یوازې د ښځو او نجونو، بلکې د نارینه وو او هلکانو، او په ټوله کې د ټولنې او هیواد لپاره وژونکې پایلې ولري – افغانان به د یو فعال روغتیایی سیستم څخه چې د ټولو لپاره پرانستی وي، بې برخې کړي. ما په جدي توګه له واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کړې چې په دې له سره غور وکړي.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د پلي کولو په اړه زموږ وروستي راپور د ټولو افغانانو د حقونو پرله پسې سرغړونې په ګوته کړي دي. د دې تطبیق په ټول هیواد کې څرګند دی، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلټونکي د پوستو، نادولتي موسسو دفترونو، جوماتونو، بازارونو، ښوونیزو ادارو او ودونو څارنه کوي، او نور عامه ځایونه یې اشغال کړي. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلټونکو لخوا د عمومي څارنې د پراخو فعالیتونو له وجې، ډیری افغانان د خطر مجازاتو پر ځای د ځان تنظیمول غوره ګڼي.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون پلي کیدو د ښځو تګ راتګ او عامه خدماتو ته لاسرسی چې له وړاندې پرې بندیز لګیدلی، اغیزمن کړی دی. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلټونکي میرمنې له محرم پرته د خپلو کورونو څخه د لنډ واټن لپاره په موټرو کې سفر کولو او روغتیایی مرکزونو ته د لاسرسي څخه منع کوي.

د نارینه وو د ږیرې او د غربي سټایل ویښتو جوړولو په پلمه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پلټونکي د قانون اړتیاوو په اړه مشورې ورکولو، د ږیرې د خریلو او د سلمانیانو د نیولو په موخه د جوماتونو او نورو عامه ځایونو څخه لیدنې ډیرې کړي او سلمانیان یې د دکانونو تړلو ته اړ کړي دي.

په سوداګریزو فعالیتونو کې د ښځو سخت جلاوالي د دوی معیشت او رواني روغتیا نوره هم محدوده کړې چې د دوی کورنیو په ځانګړې توګه ماشومانو لپاره ناوړه پایلې لري.

په یوه راپور کې چې د نومبر په ۲۶ خپور شو، موږ په رسنیو د بندیزونو پراخه نمونه مستند کړې، چې د یوې باخبره، ټول شموله، خوځنده او پرمختللې ټولنې د بنسټ ډبرې په توګه د کار کولو لپاره د خبریالانو او رسنیو کارکونکو وړتیا کمزورې کوي. د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې پر فعالیتونو د محدودیتونو له امله، د ښځو او نجونو د حقونو په څیر مهمو مسلو په ګډون د عامه بحثونو ځایونه راکمیږي.

د واکمنو چارواکو لخوا د سیاسي پریکړو پروسه ورځ تر بلې مبهمه کېږي، او دوی د خپلو داخلي متحرکاتو سره لاس او ګریوان دی. د کډوالو او راستنیدونکو چارو پر وزارت د دې اونۍ ځانمرګی برید چې په پایله کې یې واکمن وزیر او نورو خپل ژوند له لاسه ورکړ، څرګندوي چې د افغانستان امنیت او ثبات لا هم له ګواښ سره مخ دی.

دا هغه پیچلي او ننګونکي شرایط دي چې موږ پکې کار کوو. په هرصورت، موږ په نړیواله ټولنه کې د دې هېواد د بیا یوځای کیدو ګټې افغانانو ته د ښودلو لپاره په خپل چلند کې ثابت پاتې شوي یو. دا هغه څه دي چې یوناما او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیستم نورې برخې یې زموږ د ښکیلتیا او د ملګرو ملتونو لخوا د ځانګړو استازو د رابلل شویو غونډو له لارې تعقیبوي.

آغلې مشرې،

د رغنده خبرو اترو لپاره د لارو په موندلو کې یو څه پرمختګ شوی دی.

ګڼ شمیر ګډونوالو ومنله چې واکمن چارواکي د کوکنارو کښت د پام وړ کمولو کې بریالي شوي دي چې د نړیوالې ټولنې اوږدمهاله غوښتنه وه، کوم چې په کلیوالي سیمو کې ژوند اغیزمن کړی.

زه د دې غونډې په لړ کې، پراخ نړیوال ګډون او همدارنګه د واکمنو چارواکو رغنده چلند وهڅولم. دا د یوې پروسې پیل دی چې هدف یې د باور رامنځته کول او پایلې ترلاسه کول دي. د خصوصي سکټور د کاري ډلې لومړۍ ناسته، چې د ځانګړو استازو د درییمې ناستې د تعقیب په چوکاټ کې هم ترسره کېږي، ټاکل شوې د راتلونکي کال په لومړیو کې جوړه شي.

زموږ د بشري حقونو ډلې له واکمنو چارواکو سره د بشري حقونو د نورمونو او معیارونو پر پراخه مسلو او همدارنګه توقیف ځایونو ته د لاسرسي پر ځانګړې مسلو رغنده خبرې اترې کړې دي.

د اقلیم او چاپیریال مسلو په اړه، زه د کارپوهانو ترمنځ د رغنده بحثونو او د افغانانو ژوند او معیشت ته د موجود ګواښ سره د مبارزې په برخه کې د جدیت له امله هڅول شوې یم. د واکمنو چارواکو د چاپیریال ساتنې ملي ادارې په باکو کې د COP29 په غونډه کې د څارونکو په توګه ګډون وکړ، ځکه چې افغانستان د ګڼو اقلیمي او چاپېریال ټکانونو د ناوړه پایلو د مخنیوي لپاره مبارزه کوي.  ما په خپله په ټول هیواد کې ولیدل چې ولسونه اوبو ته د لاسرسي لپاره مبارزه کوي. په کابل ښار کې چې نفوس یې له ۵ میلیونو څخه ډیر نفوس لري، ممکن تر ۲۰۳۰ کال پورې د ځمکې لاندې اوبه په بشپړه توګه له مینځه ولاړې شي. چې بالاخره دا فشارونه په ښځو او ماشومانو خورا ناوړه اغیزې لري.

یوناما د کوچنیو پورونو په اړه له واکمنو چارواکو او خصوصي سکتور سره هم خبرې وکړې. موخه یې په ټول هیواد کې د کوچنیو پورونو یو حرکت رامینځته کول دي ترڅو په بې وزلې کې د پاتې خلکو او په ځانګړې توګه د ښځینه متشبثینو لپاره، چې ټول یې د افغانستان د اقتصادي بیا رغونې لپاره مهم دي، مالي لاسرسی پرانیزي.

دا ښکلې ښيي چې په بهرنۍ نړۍ کې د بې باورۍ او داخلي فشارونو سره سره، واکمن چارواکي ښکیلتیا ته لیواله دي.

آغلې مشرې،

زما په باور دا لیوالتیا باید جدي ونیول شي، او د ۲۰۲۳ په نومبر کې د ترسره شوې خپلواکې ارزونې سره سم د رغنده او ګام په ګام تګلارې د یوې برخې په توګه تکرار شي، چې امنیت شورا یې د ۲۰۲۳ کال په ۲۷۲۱ ګڼه پریکړه لیک کې مثبته یادونه کړې. لکه څنګه چې ما مخکې ټینګار وکړ، ښکیلتیا د عادي کیدو یا د رسمیت پیژندلو په معنی نه ده، بلکه دا د نړیوال سیستم سره د بیا یو ځای کیدو د ګټو بیانولو وسیله ده. دا د افغانستان د انزوا او یا له بده مرغه جګړې ته د بیرته ستنیدو د مخنیوي یوه لار ده. په ټول افغانستان کې، ډیری خلک زموږ څخه غواړي چې له واکمنو چارواکو سره همکاري ډیره کړو او د هغوی سره د لا زیاتې ښکیلتیا لپاره مرسته وکړو.

دا په زړه پورې ده چې د خپلو خلکو پر وړاندې د واکمنو چارواکو لخوا د تعقیب شوې سیاستونو له غندلو څخه ډډه وشي او په تدریجي ډول له هغه بحران څخه ووځي چې هیڅ اسانه او چټک حل یې شتون نلري.
ځینې وایي چې ښکیلتیا اغیزمنه نه ده ځکه چې دا پریکړې لا هم د نړیوالو غندنې سره سره صادریږي. خو داسې ښکاري چې فشار او غندنه کومه ګټه نلري، او که له اصولي او جدي ښکیلتیا پرته دوام وکړي، د افغانستان د انزوا لامل به شي. انزوا د حل لاره نه ده، او موږ باید د افغانانو د ګټو په پار د باور جوړولو لپاره کار ته دوام ورکړو. په داسې حال کې چې په خپلو اصولو قوي او ثابت هم یو، موږ باید صبر او عمل دواړه ولرو. خو تر هر څه پورته، موږ باید د افغان ولس د ملاتړ لپاره کلک هوډ ولرو.

مننه.

د رسنیو اړیکو لپاره: spokesperson-UNAMA@un.org